بسم الله الرحمن الرحيم

## خبر او تبصره

# د پاکستان د سیاسي او نظامي رهبرۍ کمزوري دریځ، هندي حکومت ته د اټومي برید د ګواښ جرات ورکړ

**خبر:**

د ۲۰۱۹ کال د اګېسټ په ۱۷ مه د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي د هستوي پالیسۍ د احتمالي بدلون په تړاو د هند د دفاع د وزیر راجنات سېنګ خبرې ، تکراري، زیانمنوونکې یادونه او د تاوتریخوالي لپاره د هند بې ساري لېوالتیا و بلله. راجنات سېنګ د ۲۰۱۹ کال د اګسټ په ١٦ نېټه پېشنهاد کړی و چې، د هستوي وسلو د نه استعمال په تړاو د یو هېواد اوږد مهاله ژمنې ته کېدای شي تر شرایطو لاندې بیا کتنه وشي.

**تبصره:**

د راجنات سېنګ دغه څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې کشمیر وروسته له هغې چې نرندرا مودي یې داخلي ازادي ترې واخیسته، د هندي ځواکونو تر بشپړې کلابندۍ لاندې دی. دغه څرګندونې په حقیقت کې د پاکستان لپاره یو پټ ګواښ دی. د دغو ګواښوونکو څرګندونو پر وړاندې د پاکستان کمزوري نظامي او سیاسي دریځ هند نور هم زړور کړ. که څه هم د پاکستاني نظامي رهبرۍ د پوره چمتووالي ادعا کړې؛ خو تر څنګ یې سیاسي رهبران جنګ د ستونزې حل نه بولي. دغه کمزوری دریځ د دې لپاره نه دی چې که د اشغال شوی کشمیر له مسلمانانو سره مرسته وشي هند به اټومې وسلې وکاروي، بلکې دا کار د دې سبب کېږي چې هند نور هم پیاوړی شي. د یادونې وړ ده چې د باجوه-عمران رژیم همدغه ګواښ په نورو ټکو کې څرګندوي. په اشغال شوی کشمیر

او د کنټرول په کرښه کې دهند ددغو تېريو پر وړاندې د پاکستان سست غبرګون پر دغه ادعا توجه کېږي چې له هند سره جګړه به د هستوي جګړې سبب شي.

د تاريخ په اوږدو کې هستوي وسلې يوازې يوځل دمتحده اياﻻتو لخوا د جاپان خلاف استعمال شوې دي. علت يې دا و چې يوازې د جنګ يوه لوري اټومي وسلې لرلې. د اتومي قدرتونو ترمنځ بل هېڅ نظامي جنګ، نه په مستقيم او نه هم په غير مستقيم ډول، د دواړو لورو د ويجاړۍ د وېرې په وجه د هستوي وسلو د استعمال تر حده نه دی رسېدلی. که پاکستان د اشغال شوي کشمير د ازادولو په موخه خپل پوځ ولېږي، نو هند به د هستوي وسلو د استعمال له ګواښ څخه په شا شي، ځکه چې هند پر دې پوهيږي چې پاکستان هم يو اټومي قدرت دی او د لرې واټن ويشتونکو توغونديو سيستم يې له دوی څخه غوره دي. د کشمېر د ستونزې د حل يوازينۍ لار جهاد دی. دغې اويا کلنې شخړې په ډاګه کړې چې د کشمير مسلمانان به هېڅ وخت د ملګرو ملتونو په حللارو او د نړيوالې ټولنې د فشارونو په واسطه خپلواک نه شي. ازاد کشمير له هند سره د جهاد په وسيله خپلواکي ترلاسه کړې وه، خو د ملګرو ملتونو له مداخلې وروسته دا چاره ناشونې ښکاري.

د پاکستان اوسنۍ نظامي او سياسي رهبري د امريکا غلامه ده، که امريکا ترې وغواړي چې لاړ شئ په قبايلي سيمو کې د خپلو ورونو خلاف وجنګېږئ، دوی به له شک پرته دا کار وکړي. خو که ورته ووايو چې د اشغال شوي کشمير مظلوم مسلمانان ازاد کړئ، زرګونه بهانې کوي. د دې پر ځای چې مومنان جهاد ته راپورته کړي، د دوی په منځ کې وېره او شکونه خوروي. نو يوازې د نبوت پر منهج د خلافت بيا راتګ کولی شي داسې ګام پورته کړي چې د الله سبحانه و تعالی له امر سره سم وي؛ الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ﴾

**ژباړه:** «له هغوی سره هرچېرې چې مخامخ شئ، وجنګيږئ، هغوی له هغه ځايه وباسئ له کوم چې تاسې يې ايستلي ياست، ځکه که وژل هر څومره بد عمل دی، خو فتنه له هغه څخه هم ډېره بده ده.» [البقره ۲:۱۹۱]

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره

## ليکوال: شهزاد شيخ

## د حزب التحرير-ولايه پاکستان د رسمي وياند مرستيال